# د باچاخان د تلين په مناسبت

# د افغانستان د اولس مشر ډاکټر اشرف غني پيغام



د ننګرهار ولايتي اداري د عدم تشدد د فلسفې سالار او د خدائي خدمتګار غورځنګ باني فخرافغان باچاخان د اته ويشتم تلين په مناسبت د دولتي چارو او فرهنګيانو سربهير لخوا د خيبرپښتونخوا د عوامي نيشنل پارټۍ او نيشنل يوتهـ آرګنائزيشن جوړ کړے شوې غونډې په موقعه د ننګرهار والي سليم خان کندوزي د خپلې پرانستې وينا ترڅنګ د افغان اولسمشر محمد اشرف غني پيغام ولوست.

## پيغام

باچاخان يو مهم کار دا وکړو چې په هشتنغر کښې ئې د آزاد ښوونځي بنسټ کېښودو دے ان سل کاله پخوا دې حقيقت ته رسېدلے ؤ چې په اوسنۍ زمانه کښې کاميابي د علم او زده کړو له خپرولو پرته ناممکنه ده هغوي چې د دۀ وفات په نېټه کښې د باچاخان پوهنتون کښې وينې وبيولې هغه کسان وو چې په خلقو ئې بېداري او ترقي نه لورېدله خو د خوشحالۍ ځائې دے چې نن دنيا بدله شوه او په لراو بر پښتنو کښې د زده کړو په مهال حالات بدل دي هم په دې افغانستان کښې چې اول به خلقو زده کړو ته هځه نه کوله اوس په لکونو هلکان او جينکۍ ښوونځو ته ځي نو نوره که د چا خوښه وي او کنه علم به خورېږي او د جهل زولنۍ به ماتېږي.

د امنيت د رواداري او ګاونډيو سره د ښه تعلقاتو دپاره ضروري ده چې د باچاخان د نظرياتو او تعليماتو نه ګټې پورته کړے شي. افغانستان د دې عظيم انسان د تعليماتو په رڼا کښې د امن،ترقۍ او مضبوطتيا دپاره پوره کردار سرته ورسوو او زمونږ به کوشش وي چې د خطې نه انتها پسندي او دهشت ګردي ختمه کړو.

باچاخان چې مونږ ته دا پيغام راکړے ؤ چې په خيلونو او قبيلو مه ويشل کېږئ سره يو لاس شئ او د يو افغان قام په حيث خپل وطن آباد کړئ الله تعالى دې جنتونه ور نصيب کړي او زمونږ خلقو ته دې دا توفيق راکړي چې د سولې عدم تشدد اتفاق ولسواکۍ د ټولنې د اصلاح او د ترقۍ دپاره د باچاخان ارمانونه پوره کړو. امين ثمه آمين يا رب العالمين.

**اشرف غني**

**د افغانستان جمهور رئيس**